



# هيكر څوک دي



# هیکر څوک دي؟




کله چي څوک د Hacking نوم اوري دوی فکر کوي چي Hacking یو څو کلیکونو او یا جادوګري ده چي په قانوني او غیر قانوني ډول کمپیوټر سیستم ته داخلیږي او محرم معلومات غلا کوي.

لیکن کله چي اصلي ژوند ته راشو هیکینګ ډیر مختلف دي هیکینګ ډیر پیچلي او ددماغو طاقت په زریعه تر سره کیږي.

پخوا به اکثره خلکو له هیکرانو نفرت کاوه او ویل به یي چي هیکران د ټولني بدترین خلک دي چي غیر اخلاقي کړني او شخصي معلومات غلا کوي خونن سبا هیکران د ټولني خدمت ګاران بلل کیږي ځکه چي د سیپني خولي لرونکي هیکران د توري خولی لرونکي هیکران نیسي او محکمي ته یي وړاندي کوي نن سبا چي ټکنالوژۍ د خطر څخه بچ پاتي ده دا ټوله د سپین خولي هیکرانو د ډلي برکت دي اخلاقي هیکینګ هیڅ جرم نه دي او نه کومه محکمه پري عملي کیږي .

د هیکر مثال د اوبو دي کله چي باران وریږي اوبه یوه لار د ځان لپاره پیداکوي که د کوټي یو کونج سورۍ هم وي نو اوبه کوټي ته داخلیږي همداشان هیکر هم د باران په څیرپه په سیستم کي یوه کمزوري پیدا کوي او د هغي کمزوري په وجي سیستم ماتوي او محرم معلومات غلا کوي.

هیکر هغه څوک دي چي د لاسرسی لپاره په کمپیوټرونو کي کمزورتیا پیداکوي او ګټه تري پورته کوي هیکر اصلاً د کمپیوټر سیستم یو ماهر دي.

## د Hacking ډولونه

هیکینګ په دوو ډولونو ویشل شوي دي.

Ethical Hacking اخلاقي هیکینګ.

Malicious Hacking ناوړه هیکینګ.

۱ اخلاقي هیکینګ.

۲ ناوړه هیکینګ.



STMS-Hack

# د هیکرانو ډولونه



۱ Ethical Hacking (White Hat) د سپيني خولی هیکر:

يو امنيتي هيکر چي د پيژندل شوي کمزورتياوي د حل لپاره سيستمونو ته لاسرسي ترلاسه کوي دا ډول هيکران ممکن د ننوتلو ازموينې او زيانمني ارزونې هم تر سره کړي.

د سپيني خولی  هیکر نن سبا ورته ډير ضررت دي او د ټولني پرمختګ لپاره وظيفه تر سره کوي چي ناوړه هيکرانو مخه ونيسي .

(Black Hat) cracker



د توري خولۍ هيکر. دا ډول د شخصي ګټي لپاره کمپوټر سيستمونو ته غير مجازي ډول لاسرسی وکړي،هدف يی معمولاً د يو شرکت يا سيستم څخه د معلوماتو غلا کول وي او د محرميت  حق سرغړونه ،بانکي حسابونوڅخه د پيسو ليږدول او داسي نوري غير قانوني کړنې.



۳  Gray Hat د خړې خولی هيکر:

يو  هيکرچي د اخلاقي او ناوړه (white Hat ,Black Hat) هيکرانو تر منځ دي هغه د کمپيټر سيستمونو ته د واک پرته د کمزورتياوو د پيژندلو او محرم معلوماتو ته لاسرسی کول او بيرته يی مالک ته پرته  د کومې غوښتني کوډ سپاري او يا بغير د کومي اجازي پرته د يو سيستم کمزورتيا پيدا کول او مالک ته يي د خودلو لپاره ماتوي خو کوم معلومات نه غلا کوي.

۴  script Kiddies د ماشومانو سکريپټ.

يو غير ماهر کس چي د مخه جوړ شوي وسيلو په کارولو سره د کمپيوټر سيستمونو ته لاسرسی تر لاسه کول اکثره د ماشومانو سکريپټ په پيسبوک ، واټساپ ، ټيليګرام او داسی نورو سخصي اکاونټونو  کي ترسره کيږي .

۵ Hacktivist :

يو  هيکر چي د ټولنيز، مذهبي، سياسي او نورو پيغامونو ليږدولو لپاره هيکينګ کوي دا معمولاً پر ويبپاڼو ، رسنيسو اکاونټونو په غلا کولو سره تر سره کيږي او په ټېنټول شوي ويبپاڼي يا رسنيزو اکاونټونو لکه پيسبوک اکاونټونو کي پيغامونه پيربنودل چي خلکو  تر نظر بد راشي

لکه تيره ورځ  په ۲۰۲۱/نومبر په مياشت د ډاکټر محمد اشرف غني د پيسبوک اکاونټ غلا شوي او دوشمنانو يو غير اخلاقي پيغام هيواد والو ته پريښي و. دا يو  Hacktivist ډول هيکينګ وو.

۶ phreaked :

يو  هيکر چي د کمپيوټرونو پر ځای په تليفونونو کي کمزورتياوي پيداکوي او ناوړه ګټه تري اخلي.

STMS-Hack

# د تجربې له پلوه هیکرانو ډولونه

## ١ حقيقي هيکر (Real Hacker) :

١ حقيقي هيکر : هغه هيکر ته وايي چي خپل سري ډول بانکي اکاونټ، ويب سايټ، سرورونه، رسنيزو شبکو کي لاسوهنه او ځيني نورى کارنامي ترسرکول په غير قانوني او قانوني ډول ترسره کول او دوي فکر کوي چي دا ټول Ethical and anonymous دي.

## ٢ جعلي هيکر (fake Hacker) :

٢ جعلي هيکر : د خلکو پر مخ جعلي هيکر هغه ته وايی چي پر هيکينګ نه پوهيږي او دي ادعا کوي چي زه هيکر يم. لکه د هيکينګ Tools په خپله نشي جوړولاى د نورو هيکرانو tools استعمالوي او بيا ځان ښودنه کوي چي زه يو هيکر يم.

# څه ډول باید هیک نشو!

## ١: د پاسورډ غوره کول

داسي پاسورډ غوره کړئ چې د هیکر ذهن ورته ونه رسیږي اکثره کسانو پاسورډ د موبایل شمیره، نوم، کورنۍ نوم،د پیژندپاڼی شمیره د زیږیدو نیټه او داسی نور چی دا ټول د هر چا ذهن ته په اسنۍ سره رسیدلاى شي کوښښ وکړئ چې خپل پاسورډ د غوره کولو لپاره له قوسونو، . []/\<>:"|{}()*&^%$#!@ او دغو علامو څخه کار واخلی چي د هیکر ذهن ته په اسانۍ ونه شي رسيدلاى.

STMS Hack


## ۲: هر چا کمپیوټر کی اکاونټ مه خلاصوی



هغه چا کمپیوټر کی چي باور نه لری خپل پاسورډ مه ورکوي خاص د نیټ کیفیانو له کمپیوټرونو سره خپل پاسورډونه مه شریکوی که مجبوره یاست نو د کنټرول الټ ډیلیټ تڼیو (ctrl+alt+del) څخه استفاده وکړی

او د Task manager په پرانیستلو سره خپل ټول شکمل پروګرامونه وګوری کیداي لکه key , key Logger , Thief اویا کیدای شي کوم بل شکمن پروګرام وی نو باید چي لومړی هغه بند کړی څکه همدا پروګرامونه ستاسو کوډونه له منځه وړي


## ۳: د instant messaging څخه ګټه اخیستنه



د MSN messenger , yahoo messenger او یا ICQ سیستمونو څخه ګټه اخیستنه له همدغو سا فتویرونو په وسیله د برید امکان ډیر زیات دي څکه دا ډول پروګرامونو په زریعه کیداي شي ستاسو د IPادرس هیکر ته واستوي او بیا هیکر ډیر په اساني سره کولای شي ستاسي شخصي معلومات غلا کړي .


CTMS-Hack

## ۴: د ایمیل له لارې د پاسورډ هیک کیدل.



د Hotmail ، Yahoo او Email په واسطه په خدماتی شرکتونو کي د نوم لیکنې پر مهال تاسي ته ویل کیږي چي خپل بریښنالیک او پاسورډ دننه کړی هیڅ خدماتي شرکتونه نه غواړي ستاسي پاسورډ غوښتنه وکړي نو هیله کوم چي په بریښنالیک کي خپل پاسورډ مه لیکی تاسو کیدای شي هیک شي.


## ۵: هرنا پیژانده لینک مه خلاصوی



هر هغه لینک چي تاسی پرې اعتبار نه لری مه خلاصوی اکثره لینکونه داسي وي چي پري نیت د استعمالولو لپاره دا لینک کلیک کړی او یا داسی چی تاسی دا لینک کلیک کړی او تاسی خپل قسمت وګوری کیدای شي تاسي ته ایفون راوخیژي یا موټر دا ټول د هیکر یو چال دي داسي لینکونو کې خو بیبنی خپل بریښنالیک او کوډ یا شفر مه ورکوی او یا هغه فایل مه خلاصوي چی تاسی پري شک وي کیداي دا هم یو وایروس وي او هسی نه چي ستاسي ډاټا له منځه یوسي.

STMS-H


# ۶: هغه سافټویرونه چي شخصي ډاټا هیک کوي




## Key logger

Key logger یو سافټویر دي چي کله هم مونږ څه لیکو مسیج یا پیسبوک اکاونټ ته فاسورډ استوو هغه ټوله لیکل شوي ډاټا جمع کوي او هیکر ته یی Email له لاري استوي.

## Multi keyboard



هغه کسان چي multi Keyboard هغوی لپاره خبرداری چي د هغوي ټولي شخصي مکالمي او کوډونو غلا کول او ورسره ستاسې ټول شخصي معلومات د هیک کولو شونتیا ډیره زیاته وي پام ډیر زیات داسي نور کیبورټونه چي د پاکستانی او ایراني هیکرانو له خوا جوړشوي کیبورډ چي هغه ډیر په اسانی سره ټوله ډیټا غلا کوي پشتو کیبورټونو انسټالولو کي ډیر پام وکړی.

## Gallery luck



هغه Gallery luck چي تاسې پکي ډیره شخصي ډاټا ساتی داسي قسم سافټویری ډیر په اسانی سره جوړیږي خاص د ډاټا هیک لپاره هغه کسان چي انټرنیټ یی کله

وخت کي ډير زيات استمال شوي وي او دي نفر تري ډيره استفاده نه وي کړي نو دا نفر په خطر کي دي او ټوله ډاټا يی بغير د اجازي اړول شوي چي داسي قيصی له ډيرو دوستانو سره شوي

## ۷: د انټرنيټ په شبکې اعتماد

له هغه ځايه انټرنيټ واخلئ چي امنيت يی ډير او کاري تجربه يی زياته وي ځکه پر بې تجربي منشيانو سربيره پاسورډونه هيروي او يا يی خيانت کوي که چيرته د ISP شبکه هيک شوه نو بيا ستاسو ټولو کوډونو ته يو لوی خطر ده او بيا ستاسې له لاسه هيڅ هم نه کيږي.

## ۸: د Proxy او VPN د استعمالولو ګټې

Proxy يو سافټوير دي چي د انټرنيټ د IP ادرس د ساتلو لپاره استعماليږي هغه سايټونه چي پابندی پري لګيدلای وي نو Proxyپه زريعه کولای شي دننه لاړ شي او Proxyپه ذريعه کولای شي چي د انټرنيټ سرعت ډير کړي. ساييبري جګړه......

STMS.Hack

# په تاريخ کي مشهور هيکران

Continue by STMS-Hack……………

Bahar…………………….. . .

```
      !
     -$-         ---------  *
      !      .        /
     /m\    /-s-\
    (b..)    |    *
 +   |:|    /^\  /~\
 !   |:|/\ _|  |_____|:|
/^\ /   O |/...\  /_-_\
|@ \| n  /:::::|H/|-  :  -|
```

STMS-Hack



Ian Murphy



Kevin Mitnick



Johan Helsinguis



Linus Torvalds



Mark Abene



Robert Morris

```
|  ||  /~      |3/|  _  |
|____|/~ @ /~\ |A/|_(_)_|
```

STMS-Hack